# عمل له افراط او تفریط پرته بشپړوالي ته ورنږدې کړئ او یا یې بشپړ ادا کړئ، او پوه شئ چې هېڅوک به ستاسو څخه په عمل ونه ژغورل شي». هغوی وویل: ته هم اې د الله رسوله؟ هغه وفرمایل: «زه هم نه، مګر دا چې الله مې په خپل رحمت او مهربانۍ کې پټ کړي

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «عمل له افراط او تفریط پرته بشپړوالي ته ورنږدې کړئ او یا یې بشپړ ادا کړئ، او پوه شئ چې هېڅوک به ستاسو څخه په عمل ونه ژغورل شي». هغوی وویل: ته هم اې د الله رسوله؟ هغه وفرمایل: «زه هم نه، مګر دا چې الله مې په خپل رحمت او مهربانۍ کې پټ کړي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام عمل کولو ته هڅوي او دا چې له الله څخه تر خپلې وسې پورې وویرېږي، پرته له دې چې (په عمل کې) افراط او تفریط وکړي، او د دې لپاره چې عمل یې قبول شي او له امله یې پرې د الله جل جلاله له خوا رحمت نازل شي نو په خپل سم عمل سره دې نیت الله جل جلاله ته خالص کړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیروۍ سره سم دې تر سره کړي. بیا یې خبر ورکړ چې ستاسو څخه به هېڅوک یوازې په خپل عمل سره ونه ژغورل شي؛ بلکې د الله جل جلاله رحمت اړین دی. هغوی وویل: ته هم اې د الله رسوله، آیا ستا عمل د دې ستر ارزښت سره سره هم تا نه شي ژغورلی؟ ویې ویل: زه هم، پرته له دې چې الله مې په خپل رحمت ویوښي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3469